# Refugee and Newcomer Checklist: Preparing for Changes to Medical Coverage

# (دا لاربنود دغه بدلونونه تشریح کوي او د نویو راغلو کسانو لپاره بدیل روغتیايي خدمتونه او ملاتړونه په ګوته کوي، څو روغتیايي پاملرنې ته د لاسرسي په برخه کې مرسته ورسره وشي)

### څه شی بدلیږي؟

د **10/01/2026** څخه به فدرالي مقررات بدل شي او دا به وټاکي چې څوک Medicaid ترلاسه کولای شي.

ځینې کسان چې د کډوالی ځانګړی وضعیت لري، ښایي د Medicaid پوښښ له لاسه ورکړي.

**که تاسو له لاندې کسانو څخه یاست، ښایي دا بدلونونه پر تاسو اغېز وکړي:**

- کډوال یا د پناه غوښتنې منل شوی کس
- د بشري دلایلو له مخې په موقتي ډول د داخلېدو اجازه لرونکی کس
- د انسانانو د قاچاق یا کورني تاوتریخوالي ژوندي پاتې شوی کس

**د دې ډلو لپاره به د Medicaid د وړتیا په شرایطو کې بدلون نه راځي:**

- قانوني دایمي اوسېدونکي (د ګرین کارډ لرونکي)
- کیوبایی یا هایتي راغلي کسان
- د COFA کډوال او د آزادې ملګرتیا لرونکو ایالتونو اتباع

**مهم:** د Iowa د روغتیا او بشري خدمتونو اداري رسمي خبرتیا ته انتظار وکړئ. دا **مهګنځ** چې ستاسو Medicaid پای ته رسېدلی دی.

### د بیمې د احتمالي له لاسه ورکولو لپاره چمتووالی

همدا اوس ګامونه پورته کول له تاسو سره مرسته کوي چې په روغتیايي پاملرنې کې له ځنډ او تشو څخه مخنیوی وکړئ. تاسو باید څه وکړئ:

1. **ژر تر ژره د ډاکتر د لیدنې وخت وټاکئ.** که روغتیايي اړتیاوې لرئ، هڅه وکړئ چې د 10/01/2026 څخه مخکې خپل ډاکتر ووینئ. د خپلې درملنې د پلان په اړه خبرې وکړئ.

2. **په سپټمبر کې د اضافي درملو غوښتنه وکړئ.** که هره ورځ درمل کاروئ، د 90 ورځو لپاره د درملو د بیا ترلاسه کولو غوښتنه وکړئ. (دا ستاسو د روغتیايي پلان، درملو او ډاکټر پورې اړه لري.)

3. **ټولې سپارښتل شوې روغتیايي لیدنې بشپړې کړئ.** هڅه وکړئ چې د اکتوبر 1 څخه مخکې د متخصص ډاکټر لیدنې، تعقیبي معاینې، لابراتواري ازموینې او مخنیوي پاملرنه بشپړه کړئ.

4. **له خپل ډاکټر څخه د خپلو روغتیایي اسنادو کاپي وغواړئ.** په دې کې ستاسو پخوانی روغتیایي تاریخ، واکسینونه، د درملو لړلیک او د ازموینو پایلې شاملې دي. دا به له نویو ډاکټرانو سره مرسته وکړي چې وروسته ستاسو روغتیا ښه درک کړي.

5. **مهم اسناد په یوه ځای کې وساتئ.** خپل پېژندپاڼه، د بیمې اسناد، روغتیایي ریکارډونه، نسخې او د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کوونکو د اړیکو معلومات په یوه خوندي ځای کې وساتئ.

6. **په یوه وړیا کلینیک یاد فدرالي شرایطو لرونکو روغتیایي مرکزونو (FQHC) کې د روغتیایي پاملرنې ترلاسه کول پیل کړئ.** FQHCs د عاید پر بنسټ لګښت اخلي. دا ګټوره ده چې مخکې له دې چې بیړنی روغتیایي پاملرنې ته اړتیا پیدا کړئ، د یوه کلینیک ناروغ شئ. د دې سرچینو د کتلو لپاره، ده **https://hhs.iowa.gov/health-prevention/refugee-health** وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ. اضافي سرچینې د «د Medicaid بدلونونو او د کډوالو او نورو هغو نویو راغلو کسانو لپاره چې د ORR وړ دي، د بدیلو روغتیایي ملاتړونو درک» په سند کې هم موندلای شئ.

7. **د خپلو درملو استعمال ته دوام ورکړئ.** د لګښت له امله د درملو استعمال مه بندوئ. له ډاکټر یا درمل جوړوونکي څخه د ارزانه بدیلونو، جنریک درملو یا د ناروغانو د مرستې پروګرامونو په اړه پوښتنه وکړئ.

8. **د نسخو لپاره د مرستې پروګرامونه ولټوئ.** ځینې شرکتونه، کلینیکونه او غیرانتفاعي ډلې د درملو د لګښتونو په کمولو کې مرسته کولای شي. د درملو د نسخو د مرستې پروګرامونو د لړلیک لپاره، مهرباني وکړئ د «Understanding Medicaid Changes» سند وګورئ.

9. **خپل د اړیکو معلومات د Iowa د روغتیا او بشري خدمتونو له اداري** سره تازه کړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې Iowa HHS ستاسو د تلیفون سمه شمېره، پته او برېښنالیک لري. خلک کولای شي له HHS سره خپل د اړیکو معلومات په لاندې لارو تازه کړي:
   a. 1-877-347-5678 ته زنګ ووهئ.
   b. IMCSC@hhs.iowa.gov ته برېښنالیک ولیکئ.
   c. 1-515-564-4018 ته فکس واستوئ.
   d. د HS سیمه‌ییز دفتر ته ورشئ.
   e. معلومات دې پتې ته د پوست له لارې واستوئ:

   Iowa Health and Human Services, Image Center 4
   PO Box 2027
   Cedar Rapids, IA 52406.

10. **که اړتیا لرئ، د ژباړونکي غوښتنه وکړئ.** تاسو حق لرئ چې د روغتیایي لیدنو پر مهال وړیا ژبنۍ مرسته ترلاسه کړئ.

11. **له خپل سیمه‌ییز د بیا مېشتېدنې د خدمتونو له برابرونکي یا د قضیې له کارکوونکي سره په اړیکه کې پاتې شئ** (LSI, USCRI, IRC, Catholic Charities, LFS او نور). هغوی کولای شي د اړوندو بهیرونو په ترسره کولو کې له تاسو سره مرسته وکړي.

## که د 10/01/2026 پر ورځ Medicaid ته لاسرسی له لاسه ورکړئ، د روغتیايي پاملرنې لپاره چېرته ولاړ شئ؟

- د ژوند ګواښوونکی بېړنی حالت: 911 ته زنګ ووهئ یا د روغتون بېړنی څانګې ته ورشئ.
- داسې ناروغي یا ټپ چې انتظار نه شي کولای، خو بېړنی حالت نه وي: د عاجلو روغتیايي خدمتونو مرکز ته ورشئ.
- د روغتیايي سرچینو، په ګډون د وړیا طبي کلینیکونو، د لړلیک لپاره مهرباني وکړئ د « Understanding Medicaid Changes and Alternative Health Supports for Refugee and other ORR-Eligible Newcomer» سند وګورئ.